# د خوشال کرکه‌له خټکو

لیکنه : ضیاءالحق سیند

خوشال خان خټک د شهباز خان زوی د یحیی خان لمسی د ملک اکوړي کړوسی ، چې په ۱۰۲۲ س ل کال په اکوړه خټک کې دې دنیا ته سترګې پرانستې دي ، څنګه چې د نومړي د نوم له روستاړي څخه هم څرګندېږي ،چې په قوم خټک دی او خټک د پښتنو یوه ستره توریالی قبیله ده ، خو خوشال خټک ځای ځای په خپل دېوان کې د خټکو له نامې سره کرکه ښودلې ده ، ما خپله د خوشال خټک دېوان بیا بیا لوستی دی ، نومړی د ټولو پښتنو نه ګیله من ښکاري خو په ځانګړي ډول د خټکو او یوسفزیو نوم بیا بیا په بدو ټکو را اخلي ، هغه ځکه چې یادونه د هغه چا کېږي ، چې هغه یو څوک وي ، خټک له نومړي یو ځای خورا زیات اوسیدل او خورا ځواک خاوندان ول ،خو هغه وخت د لنډې د سیند د غاړې خټک د اکوړه خټک د سرای اوسیدونکي په دوه ډلو وېشل شوي وو، څه د خوشال ترشا او څه نور هم د مغلو د نوکر د خوشال خټک د زوی بهرام خان ترشا ولاړ وو، نو خوشال خان د مجبورۍ له امله خټک په بد نوم یادول ، ان تر دې چې د خپل ځان نه یې په دې کرکه په دې راغلې ،چې دی هم خټک دی او په دې اړه وایي:

د خټکــو حقیقت را ته ښــکاره شــو

زړه مې بد له خپله ځانه چې خټک یم

(دېوان، ۵۷۹ مخ)

او بل ځای د خټکو له نوم څخه انکار کوي ، او له ټولو خټکو څخه نا خوښه ښکاري او توبه ګار دی

د خټکو نه مې هومره زړه نا خوښ دی

چې تــوبه د همــګي خټک له نامه

(دېوان، ۶۰۳مخ)

د خوشال خان کورنۍ پلار تر پلاره د خټکو خانان او مشران پاتې شوي وو، خو کله چې خوشال د مغلو خلاف شو ، نو هغه خاني ملکي هر څه ترې پاتې شول ، د افغان په نامه یې توره تر ملا کړه او پښتنه مېرانه او ننګ یې مله وو ، خوشال خان په خپل قوم د هیڅ ډول مرستې سپمې نه و کړی ، نو ځکه ترې ګیله من ښکاري.

Download from:aghalibrary.cm

د نعمت په قـــدر هیڅ خـــبردار نه دي

نوم خټک به مې خلاص نه وي له انعامه

(دیوان، ۶۰۳ مخ)

بل ځای بیا نومورې د خټکو په لیکه کې د پښتنو دوه نور درانه او ستر قومونه (بنګښ او ورکزي) هم ورګډوي او د دې درې واړو په کورونو یو ځای د ماتمونو غوښتنه کوي.

که خټک دی که بنګښ که ورکزی دی

وار په وار یې په کـــور وشه ماتـــمونه

(دیوان، ۵۵۵ مخ)

بل ځای بیا یوسفزي تر سپیوو بدتر ګڼي، هغه داسې چې یو ځل خټک تر سپو بېکاره ښیي او د خټکو سپي تر یوسفزیو بهتر ګڼي، او وایي:

د خټکـــو سپي بهتـــر تر یوسفـــزیو

که خټک دی هم په خوی تر سپي بېکاره

(دیوان، ۵۵۵ مخ)

او په اخره کې وایي :

که خټکو راته شا کـــړه مخ یې تور شه

زه یوازې په تکیه د خدای شیرک یم

(دیوان، ۵۷۹ مخ)

پای

یادونه : د پښتنو ټول قومونه په ننګ ، پت ، مینه او ښېرازې کې یو له بله کم نه دي او هر یو ځان ځان ته ځانګړی مقام لري ، دا د خوشال خان خټک د خولې خبرې دي ، زما نه دي ، کېدای شي ،چې د نومورې په کمو بدو بد ترې راغلي وي دا د هغه خپل کار دی ، خو زه په خپله ټول قومونه ته په یوه سترګه ګورم، هیله مند یم، چې څوک له ما څخه نا خوښه شوي نه وي.

په درنښت

ستاسو ورور :ضیاءالحق سیند

پته: بغلان ولایت ، پلخمري ولسوالۍ د ډنډ غوري زرغونه سیمه

۱۳۹۴/۱۱/۱۳

Download from:aghalibrary.cm